مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۹/۰۳/۲۰

# پسرلی او ښکارندوی غوري

د پسرلي ښکلونکي بیـــا کـړه سینګارونه
بـیـــا یي ولــــونـل پـــه غــرونـــو کــي لالــونه

مـځکـه شنـه، لاښونـه شنـه، لمني شني شوې
طــلــیسـان زمـــردي واغــوســتـــه غرونه

(ښکارندوي غوري)

د نوي کال د لومړی ورځې (نو روز) لمانځل په ځینو هیوادونو کې د یو عنعنوي جشن بڼه لري له هغې ډلې نه زموږ په هیواد افغانستان کې.

دا ورځ او دا جشن په پښتو ادب کې له ډېر پخوا نه انځور شوې ده او د پسرلي او نوروز یادونه د پښتو ادب د ډېرو غوره شاعرانو په کلام راغلي ده. خوشال خان د نوروز یادونه په ډېرو ځایونو کې کړې، خو په یوه قصیده (د پسرلي ننداره) کې یې ډیره ښه بیلګه لیدلای شو. دا یې څو بیتونه دي:

د نـوروز منت پـــه بـــاغ دی پـــه صـحـرا هم
نــوراني یې شي لـــه فـیـضـه هـغـه، دا هم

چې پـــه بـــاغ کې رنـګـارنګ ګـلـونـه وا شي
غـــنـیـمت ده د ګـــلـــونـــــو تـــمـــاشا هم

لخلخي د نـــوبـهـــار پـــــه هــــر مشام ځي
ګـــلـــدستي یـــي ښـنـدوی پـیـر و برنا هم

(خټک خوشال خان، د خوشال خټک کلیات، اوډنه ـ پرتلنه ـ سمون او ویپانګه: عبدالقیوم زاهد مشوانی، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۵ ز کال، ۴۰۹ مخ)

له خوشال نه څو سوه کاله پخوا هم په پښتو ادب کې د نوي کال او د طبیعت د بدلون انځورونه په خورا شاعرانه او هنرمندانه ډول تر سره شوې ده. یو له هغو شاعرانو څخه چې دا کار یې په خورا ماهرانه او هنرمندانه ډول تر سره کړی دی، د پښتو ادب د لرغوني دورې غوره قصیده ویونکی شاعر ښکارندوی غوري (۵۸۰ هـ حدود) دی.

ښکارندوی غوري د پسرلي او طبیعت د بدلېدو یو ډېر غوره انځور په یوه قصیده کې وړاندې کړی دی. د سرېني نوروز او نوي پسرلي په پار به یې څو بیتونه را واخلم:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

د پسرلي ښکلونکي بيا کړه سينګارونه
بيا يې ولونل په غرونو کې لالونه

مځکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې شوې
طليسان زمردي واغوسته غرونه

د نيسان مشاطې لاس د مچېدو دی
مرغلرو باندې وښکلل بڼونه

د غاټولو جنډې خاندي وريدي ته
زرغونو بڼو کې ناڅي زلمي جونه

لکه ناوې چې سورټيک په تندي وکا
هسې وګاڼل غاټولو سره پسولونه

زرغونو مځکو کې ځل کا لکه ستورى
چې پر هسک باندې ځليږي سپين ګلونه

سپينې واورې ويلېده کاندي بهيږي
لکه اوښې د مين پر ګرېوانونه

هر پلو رڼې والې بهاندې خاندې
له خوښيه سر وهي په سنګېرونه

هر پلو د ګلو ورږم دی لونلی
ته وا راغلل له ختنه کاروانونه

د مسيح په پو به مړو ژوندون بيا موند
پسرلی مګر مسيح شو په پو کړونه

له مړو خاورو يې آغلى ګل راويست
وچ بيديا او غر يې کړله جنتونه

د پوپلو مخ سور کړی پسرلي دی
يو د بل پر غاړه اچوي لاسونه

په غورځنګ، غورځنګ له خولې ځګونه باسي
لکه شڼ هاتي شنا کاندي سيندونه

(حبيبي عبدالحی، د پښتو ادبياتو تاريخ، دويم ټوک، دانش خپرندويه ټولنه، ۲۰۰۵ ز کال، ۴۹۸ ـ ۵۰۵ مخونه)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ